# جرمونه زما په وطن كښې

اسرار د طورو

جرم د آدم د تخليق د ارادې سره سم ملائيكو ته په دغه نوغي كښې ښكاره شو ملائيك نوراني وجود لري او منونكي دي هغوي په بني آدم كښې د فساد او خون ريزۍ صفت



ليدلے ؤ خو رب تعالى آدم ته د ټولو نومونو (اسماء) علم وركړو او د علم فضيلت ته ئې ملائيک په سجده مامور كړل. دوي سجده وكړه خو ابليس د الله حكم او نه منلو هغه وئيل زۀ د اوره پيدا يم. د دۀ نه غوره يم د آدم فضيلت ته بد نيته شو نو جرمونو ته ئې آماده كولو. الله آدم له ملگرې وركړه. په جنت كښې ئې مېشته كړل. الله ور ته ټول باغ سوغات كړ. خو ور ته ئې اووئيل چې دغې اونې ته مه نزدې كيږۍ گنې نو د ظالمانو په شان به شئ.

ابليس اولمسول دغه اونې ته نزدې شو. لغزش اوشو. نو سره د ابليس د جنت نه زمكې ته راغلل. دلته نفس د خوړو څښو او مينې لوږه وركړه د اولاد زيگون پيل شو. بيا د آدم بابا يو ځوي خپل ورور قتل كړو. د جرم سلسله روانه شوه. يو ليكوال (Dur kheim) وائي ,,جرائم ټولنه كښې ترقي راولي،، د آدم بابا قاتل ځوي د مړي د ښخولو چل ازده كړ زرگونه كاله تېر شوي دي نن هم قاتلان مړي د فن په بُل ډوزرو ښخوي. يا ئې لكه د هندوانو سيزي. يا ئې سپو او كارغانو مارغانو ته پرېږدي.

زما د وطن په هره سيمه كښې جرائم په ترقۍ دي. پنجاب په جرائمو كښې اول نمبر دے. پښتونخوا خو پيرنگيانو او بيا يارانو د هر قسم جرمونو دپاره مختص كړې ده. دلته قانون دے.

هلته قانون نشته. جرم وکړه او ځه. په قبائیلي علاقو کښې اوسیږه. جرمونه کوه. بلوچستان او سندهـ هم د چا نه کم نه دي او کراچۍ خو د مجرمانو مرکز دے. بې دریغه مرګونه ئې وکړل.

مودۍ وشوې د امریکې او نورو ملکونو فوځونه د امن دپاره افغانستان ته راغلي دي. زرګونه خلق ئې ووژل. کورونه ئې دړې وړې کړل. ولاړ عمارتونه ړنګ شو نر ښځې ماشومان په وینو رنګ شو دا جرائم د یویشتمې پیړۍ د مهذبو قومونو کارنامې دي. اعداد و شمار به سکالران ساتي. پولیس او فوجونه لګیا دي د جرائمو مخ نیوے کوي. ټارګټ کلنګ، ځان وژونکي بریدونه بمونه خلاصول غلا غُلتي رشوت خوري په جائیدادونو ناجائز قبضې ګاډي او بني آدم اغوا کول او ناوړي کارونه کول معمول دے.

د قتل او سفاکۍ رده ابن آدم اینبودې وه. ان چې په هندوستان کښې د آزادۍ حرکت شروع شو سامراج ښکاره باره دهشت ګرد شو بیا دوه قومي نظریه راغله هندوانو مسلمانان وژل او مسلمانانو هندوان قتلول. د جرائمو په طوفان کښې تقسیم وشو. دواړه غاړې په وینو خړوب شوې. د آدم د بچو وینې توئې شوې. پاکستان د ګڼو قامونو،ژبو او فرقو شریک وطن دے دلته امن په عدل او انصاف راتلے شي. هر قوم هرې سیمې له د ملک په اجتماعي پنګو کښې خپل حق ورکول امن راولي ګڼې نو جرائم به وده کوي.

د حکومتونو کار دا دے چې د ملک خواړه به هرې سیمې او هر قام ته رسوي نو امن بهٔ قایم وي محنت مشقت به کیږي. که دا نه وي نو جرائمو ته لار آسانه شي. بې روزګاري غریبي راولي او غریب خلق جرائمو ته آماده شي.

طبقاتي ټولنه کښې سیاسي معاشي او اخلاقي جرائم په جوبن کښې وي یوه طبقه عیاشي کوي بله طبقه د عیاشۍ ښکار وي. عیاشي په خپله جرم دے او نور نور جرائم پیدا کوي.

د وطن پولیس د جرائم پیشه خلقو لار بنده وي خو د ترهګرۍ مشران هم دا د معاشرې بدمعاشان په بیه واخلي تربیت ورکړي. پیسه او وسله ورکړي او ترهګر ئې کړي. دوي ته په مختلفو محکمو کښې سرکاري افسران او ملازمان په لاس ورشي. په غریزو علاقو کښې او په نورو ایجنسو کښې د قانون نه پټ شوي مخروران په اعتماد کښې واخلي هغوي بیا شریف خلق په زور په زیاتي دباؤ ځان سره کړي. سړے په سرکاري کالج کښې د کمپیوټر لیکچرر وي کار دهشت ګردو له کوي. پټواري تحصیلدار او د پولیس کارنده یا د ایکسائز د محکمې خلق خو د قائداعظم د تقریر قدردان وي. په آسانه را هم شي دا خلق د خپلو سرونو او د خپلو بچو د سرونو خیر غواړي نو مجبوراً د ترهګرو آله کار شي.

په سرکاري ګاډي غلط نمبر پلیټ اولګوي او کار ترې ترهګر اخلي. د کسټم افسران

هـم سرونه لري نو د غلا ګاډي،وسلې،بارود د پولې نه را اړوي دوي ئې منع کولے نه شي. موټې ئې هم ګـرم وي او سـر ئې هـم مـحفوظ وي. د فـرانـس غـونـدې ايډوانس ملک کښې سړي راغلل سوونه خـلـق ئې ووژل. ځـانـونه ئې مړهٔ کړل. يو پکښې پوليس مړ کړو. يو سره پاسپورټ هم ؤ. ظاهره وه قـاتـلان شـناختي کاغذونه نه ګرځوي. خو چې په لانـجـه کيـوځـي نـو بيـا پـاسپورټ هم نـه شي سنبالولے.

پـنـجـاب کښې د جـرائمو شمېر د معلوم اعداد و شمار نه يو په درې زيات دي. قتلونه ډاکې او د شـرم کـارونه کيږي. او جرائم وده کوي په ١٢ دسمبر ٢٠١۴ د پېښور ښار د آرمي پبلک سکول او کـالـج پـه بـچو حمله وشوه د اتو کالو نه تر ١٨ کالو ماشومان بچي قتل شو. ١٢٠ کسان په نخښه شو او ١۴١ بـچـي شهيدان شو. دا سانحه انتهائي سـخته وه. پوليس او فوځ ترهګرو ته متوجه شي نـو لارې کـوځې او د مـلـک سرحدونه بدماشانو ته آزاد شـي. اليکټرانک ميډيا ترقي کړې ده. د ټي وي ريډيـو سـنيما فلمونو ډرامو په ذريعه د تشدد قتـل و غـارت جـنسـي حـمـلو او تجربو مظاهرې جرائم ډيره وي.

د مذهب په نوم په ممبر او محراب د جنګ او نـفـرت تبليغ کيږي يو عالم د قران پاک د سورة الـکهف پـه تـفسيـر کښې وضاحت وکړي چې په قبـرونو عمارتونه جوړول د سابقه خلقو سنت دي. جـواز لـري. بـل صـاحـب د مدينې منورې نه سند راوړي او د سـورة الکهف تفسير اوليکي نو وائي چې پـه قبـرونـو عـمـارتـونه جوړول منع دي او دا شـرک دے. دا قسـم متـضاد بيانونه چې عوامو ته پـه جـوش و خـروش بيـانيږي نـو پـه يو دين کښې فرقې جوړې شي او بيا يوه فرقه بله فرقه وژني او ثواب ګټي. د جرمونو حوصله افزائي کيږي.

د يـزيـد او حضرت امام حسين رضي الله عـنـه شـخړه د تـاريـخ افسـوسناکه واقعه ده د دې سـانحې ياد بايد د اصلاح دپاره تازه شي ولې دلتـه خـو د سـوونو کالو د امت د ځينې افرادو غلطي نن يـو بل تـه منسوب شي او د قتل و غـارت بازار ګرم شـي. د څـوارلـس سـوو کـالو زوړ جرم د بې ګناه خـلـقـو کـورونـه تباه کړي. دا د مذهب د وکيلانو طريقه ده چې جرائمو ته لار صفا کوي.

سيـاسـي ليډران د ايـجـي سن کـالج پـه تـعليم فخر کوي. خپله ژبه نه ورځي. ګمان ئې دا وي چې پـه انګـريـزئ عبور لري او چې عوامو ته خـطـاب کـوي نـو يـو ليډر د بل ليډر هجو کوي. الـزامـونه لګوي. کنځل کوي. او خلق پاروي. بيا چې د پـاريـدلې خـلـقو نه ووټ واخلي نو نه د امن خـوشـخبري راوړي. نه د بجلۍ مسئله حل کړي. نه رشوت ختم کړي. مرګونه کوي او په مخالفينو د قتـل مقدمې جوړوي. ترهګر پټ ساتي. نرخونه تـرې نه آسمان ته اورسي دروغ وائي چې امريکې ته لاړ شي نو حاجي شي. ګناهونه ئې معاف شي.

چې پـه قبـائيـلي سيمو کښې په ترهګرو ورشـي قبائيـل بې کوره بې شکوره شي نو د اتحاد

او آئینـي حقونو شعور پکښې پېدا شي دا شعور واکمن پریشانه کړي. رَو ګودر ترې نه خطا شي نو د پښتنو سیاسي مشرانو پسې کوتک را واخلي او نتیجـه ئې د ملک بربادي وي. دا طرز حکومت د جرائمو او ترهګرۍ مخ نیوے نه کوي. ترهګري پالي. پـه جمهوري ملک کښې حقدارو له حق ورکول به جرائم کم کړي.

انسـان چې پـه سـائنس کښې په مخ تګ وکړو نـو ایټم بم ئې جوړ کړو شلمې پیړۍ د هیرو شیما او ناګاساکي د دوزخ غرغنډې ولیدې. انسانیت او تهذیب اخلاق او مذهب ایره ایره شو. نن نوره ترقي شوې ده داسې ملکونو سره هم ایټم بمونه دي چې خلق ئې لکه د غلو په ډوډۍ پسې اما کما ګرځي په انتهائي ذلیله طریقه ځان اټلي ته جرمني ته انګلینډ ته رسوي. لکونه روپۍ اوسیزي په کلونو لکه د غل اوسي او دلته ور له لیډران ایټم بمونه جوړوي. چې هندو به مسلمان په بم اولي او مسلمان به هندو په ایټم بم وژني. دا ترقي ده. دا جهاد دے. نو امن او سوکالي به څنګه راځي. او جرمونه به ولې نه ډیرېږي.

کربلا د هیچا خوښه سانحه نۀ ده نن ترهګرو د خوږ وطن هره کوڅه هر بازار او هر جومات او هره مدرسه کربلا کړې ده. که حاکم د جرم لار خپله کړي نو د رڼا په ځائې په تاریکۍ رضا وي. بجلي خو د رڼا یوه ذریعه ده. د اقتدار مینه خو د باچا نه چنګیز او هلاکو جوړ کړي روس په افغانستان راغے اسلامي جهادي قوتونو د کربښو نه بې پرواه د کفر په امداد په روس یرغل وکړو ماتې ئې ورکړه. نو امداد ورکوونکو په جهادیانو راباندې کړل. هدف د اسامه قتل او د ملاعمر زوال ؤ دا دواړه هدفونه سر شو خو د وسط ایشیاء د توانائې منابع قابو کول داسې هدف دے چې عملیات پرې جاري دي. بله مسئله د چین ماچین د ښاپېرو ده. دا ښاپیري ډیر دي او شته مـنۍ ته روان دي توراباان او سپین دیو ور ته په سوکښ دي. هر ځائې چې دم ګر په لاس ورشي نو د انسان په وینو پرې تعویزونه لیکي. نجومیان د صوفیانو په جامه کښې په دم تعویز خلق لیوني کړي او قصابان شي دلته دا لوبه ګرمه شي هلته دیوان د ښاپېرو نه پنجرې چاپېره کوي که د ښاپېرو د کوهِ قاف نه یا جوج ماجوج را اووتل نو هم تباهي به اول په دې سیمه راځي.

د نجات لار به موندل غواړي. باباګان وائي د امن لار شته ولې څه وکړو باباګان لاړل او پاتې وارثان ئې د یو بل نه ګیله مند دي. که یو ځائې کیني نو ممکن ده لار اومومي ګنې قام سره به امام هم سر خوري.

اتفاق،اتحاد،ورورولي،مینه،علم او صبر د امن کالي دي. زمانه ګواه ده چې انسان په ایمان نیک او بې آزاده عمل او د حق او صداقت په مرستـه او زغم کامیابي مومي. جرائم د خسارې موجب وي زما وطن د مینې تږے دے.

☆☆☆